# د اجمل خټک په نوم يو نيمګړے خط

## رحمت شاه سايل باچاخان مرکز پېښور 26 جنوري 2016

مـحترم خټک صاحب هسې خو به زما او ستـا د ژونـد او پېـژنـدګـلـو موده کـه د څلويښتو کلونو نه زياته نۀ وي نو کمه هم نۀ ده. خو ما چرته هـم د خپل ژوند ورځې شپې شمارلي نه دي. ما ته اوس هـم ځـان د خپـل دور هـم هـغـه نادان ماشوم ښـکاري. د نوې زده کړې په شوق کښې چې خپل پرونے عقل را په زړۀ کړم نو په خپل کم عقل توب پـورې خندا راشي. تا خپل وار تېر کړو. مخ او سر دې اونـغښتـو پـه مـخه لاړې او زه دې په عجيبه کـش مـکـش کښې پرېښودم. ته شاعر وې. زما د قـام شـاعر. زما د ژبې شاعر. زما د خاورې شاعر. ستـا د ژونـد تجزيه بس زۀ دومره کولے شم چې ته شاعر وې. او په شاعرۍ کښې د فني اظهار په چل د دې دور د بـل هـر پښتـون شاعر نه ښه پوهېدې. صـحافت او سياست هم ستا د شاعرۍ برخې وې. ځکه چې تۀ د وطن،قام او اولس د مينې شاعر وې. تـا تـر اخري سلګۍ د دې خاورې،دې وطن او د دې قـام او د دې قام د اولسونو دپاره شاعري اوکړه. او تـر خپـله وسه دې د دوي په ځان فرض کړے قرض ادا کړو. خـو کله کله به درسره د خپل شخصيت د ورکېدو ويره هم پېدا شوه. او په راويستو سترګو بـه دې پـه بوسو شوندو دغه ويره شعر کړه او اوبه دې وې چې :

يـه پښتنو هېر نه کړې دا ستاسو ملنګے خټک
وخت به در نه داسې ليونے ګورے بيا هم غواړې

تۀ اګـرچې زمـا روحـانـي استاد وې. خو ما په دې حـوالـه چـرې سـتـا تقليد نه ؤ کړے او نه مې د بيا دپـاره دغـه خيـال زړۀ تـه کوز کړے دے. د دې وجـوهـات ډېـر دي. خـو زۀ ئې تـفصيل بيـانول ضـروري نـه ګڼم. تا حق لرۀ چې دغلته دې د خپل مقام غم ژړلے وے. خو زۀ شايد په دې حواله خوش فهـمـه نۀ يـم نـو دا غـم ئې ژاړم هـم نه. او نه ستا هـومـره د لـوړ قـد سړے يـم. داسې به ئې په لنډو اوواېو چې ,,ګـنـجۍ نـه پـه سـر تـا لري او نه په ګومنځه کار لري،،

شـايـد چې فيـض احـمد فيض د دې ملک ديواځينې قومي شاعر په حقله وئيلي وو چې :

آيا اور اپنی دُھن میں غزالخوان گزر گیا

د دې شـعـر ړومبے مـصـرعه خو به در ته ياده وي کـنه؟ ستا خيالونه عالي خيالونه وو. پوهېږم چې تـا تـنـقيـدونـه هم ډېر کړي دي خو زۀ چې ستا په تـنقيدونو څومره پوهه شوے يم هغه دې بې وخته کړي وو. کـلـه چې د تنقيد وخت ؤ هغه دې په زړۀ ګـرځـول. او چې کـلـه دې دغـه تـنقيدي فن پارې اوليـکـلې نـو بيا دغلته هغه خلق نه وو د چا دپاره

چې تـا لیـکـلـي وو. شـایـد چې تا خپل تنقیدونه تاریخ ته پرېښي وي خو تا دا پته نه وه لګولې چې اوسـنـو خلقو له د هر څه هېرولو چل ورځي. تا خو به دا اوریدلي وو چې :

ستـــا وړې وړې قـطـرې زده
زمـــــا دوه دوه اخستــــل!!

د ګستــاخۍ بـخښـنـه غوارم. خټک صېب زمـا مـقـصـد ستـا روح آزارول نـه بـلـکې ستا روح ته سکون رسول دي. تا پخپله وئیلي وو چې:

پـــه نـوم نـامـوس پسې دې ګرځي خلق
اجـمـل تـــه ستـا میـنـه پېغور شـه دے

چـونـکې سیـاسـت او صـحـافت ستا د فن او فکر بـرخې وې. تـا د ټولو لارو سره وفا کړې او وفا دې پـالـلې ده. دا هم وړه خبره نۀ ده چې په یو روایتي انداز کښې مونږ ستا یاد لکه د یو غمژن مازیګري کوو. زۀ بیا هم دریادول غوارم چې:

خټک هـغـه ستا خټک دے بدل نۀ دے
ستا په زړۀ دې د رقیب سورے ونه شي

د خـوشـحـال خـان او بـاچـاخـان په زمانه کښې د درې نیـمـو سـوو کـالـو فـاصـلـه ده. د خوشحال، رحـمان، حمید او علي خان نه پس د دې دور د ټولو نـه لوئې شاعر زما په نظر کښې تۀ وې. تۀ ئې. او تـل بـه ئې. ستـا روح دې آزار نـه شـي. کله کله قـامونو او اولسونو ته د زلزلې د یو جړق ضرورت هم وي. او د زلزلې دغه جړق هم ستا شاعري وه. د هـغې اثـرات وو. کــه تۀ نــه وې زۀ بــه نۀ ؤم. او دغسې نـور ډېـر خـلق به نۀ وو. دا اوس چې کومې

وړې وړې زلـزلې راځـي دا د هـغې لـوئې زلزلې د وجې نـه راځـي. ضروري نۀ ده چې زما د دې خیال سـره څـوک اتفاق اوکړي. خو دا زما خیال غوندې دے او بـس تـا تـه خـو مـعلومه ده. چې ما ستا په ژونـد هـم ستـا خـوشـامـنـده نۀ ده کړې. نـو زۀ خوشامندګر هم نۀ یم. زۀ تازه تازه شاعر ؤم. ما یو نـظم لیکلے ؤ عنوان ئې ؤ ,,چې دا به څوک وي،، دغـه نـظـم بیـا زما په کتاب کښې چاپ شو. د دې نـظـم بـه کېږې څـلـویښـت کاله شاید. که اجازت راکوئ نو ړومبے بند به ترې تاسو ته واوروم.

چې حق ګـوئـي ئې ده پېشه کوي د ننګ خبرې
چې کـوي پاکې د خوشحال خټک په رنګ خبرې
چې پـه یوه ژبه دې ټینګ چې ئې مضبوط دے ایمان
چې ور تـه ټـوقې مسـخرې دي د اورنګ خبرې
هـغه قدغن چې به د خولې نه چونړ ویستل کفر وو
دۀ بـه پـه واز کـومـې کـولې تل د ننګ خبـرې
هـغـه وختـونـه چې لمبې وې غرغرې وې د اور
یـو پـکښې دے ؤ چې ئې کړې د پتـنګ خبـرې
هـغـه خدائې چې ئې بندیان همه په ژبه ووګونګ
هیـچرتـه نۀ دے نۀ دسیـر نـه د پارسنګ خبرې

لـکـه مـنـصـور ټپـه د حق کوي په دار ښکاري

نـو نۀ پـه دې دومره موده کښې تا ته ما وئیلي دي چې دا نـظـم ما په تا لیکلے ؤ. او د کمال خبره دا ده چې نۀ را تـه بـل چـا وئیلي دي چې دا نظم تا په چا لیکلے دے. او دا کتاب ما ته پته وه چې تا ټکي په ټـکي لوستے ؤ. خو تا هم را نه تپوس نه دے کړے چې دا نـظـم تـا په چا لیکلے. حالانکې د دې نظم د ټـولـو بـندونو نه معلومېږي چې دا ما په تا لیکلے ؤ. خـو پـه دې کښې ستا نوم نشته. او دا ځکه چې

ما د لويو خلقو په نومونو د خپل ځان لويولو کوشش چرته هم نه دے کړے. ستا د ډېرو خيالونو سره مې اختلاف هم لرلے دے. خو ستا فني او فکري پېغامونه ما د دې وطن، د دې قام او د دې اولسونو د خوبونو تعبيرونه ګڼلي دي او ستا په احترام کښې مې د زړۀ نه چرې هم کوتاهي نۀ ده کړې.

ستا پېغامونو دا خاوره او د دې خاورې بچي ذهني طور زېږولي دي دا ډېر ګران کار ؤ. دغه تا او ستا شاعرۍ کړے دے. اوس دغه زېږېدلي خلق واپس نه مړۀ کېدے شي او نه اودۀ کېدے شي. اوس د دوي مثال د غوڅو غوڅو بيدارو پرهرونو دے. اوس مونږ په دعوې سره وئيلے شو چې:

درد به د پرهر د کوره چرته ځي

خټک صيب زۀ ستا د دور د ډېرو خلقو د فکر و فن او شخصيتونو قابل يم او د زړۀ نه ئې قدر او احترام کوم. د هغې ټولو خلقو خوارۍ خسکۍ زمونږ د ژوند او فن د تاريخ پاڼې دي. او زمونږ د راهنمائۍ دپاره زمونږ د لارې مشالونه دي. خو دغه ټول خلق که تراشلي دي نو ستا د فکر و فن کمال او د خپلې خاورې خوشبوئۍ تراشلي دي. دا زما ذاتي خيال دے. او دا زۀ ستا د ذات سره مينه نۀ کوم خو دا چې دغسې وايم دا ستا شاعري د تاريخ امانت ګڼم. او غواړم چې په امانت کښې دې څوک خيانت اونه کړي. زۀ نۀ ستا د قبر منجور جوړېدل غواړم او نه غواړم چې ستا شاعري دې څوک لکه ستا د وجود د مقبرې په شان يوه مقبره کړي او د هغې په منجورۍ دې د ميراث دعوه اوکړي. دا قِسم سوچونه به ستا شخصيت او شاعري دواړه دا محدودول وي. اوس لګيا ده د دې قسمه کارونو او روزګارونو زمانه ده. زما خيال دے چې ته نه يوازې زمونږ د زمانې يو اتل او قومي شاعر ئې بلکې زمونږ د روان دور يو سرخيل هم ئې او د چا منجورانو دپاره نۀ ئې. د ټولو شريک ئې. ستا د دور د ټولو شاعرانو سره تا مينه کړې وه. او په رښتيا دې کړې وه. زۀ چې دا څو کرښې ليکم نو د ډېرو منتشرو خيالونو سره ئې ليکم. ځکه دا ستا د ياد مياشت ده. زۀ هم ستا د خوا خوګو يادونکو سره ځان شريکوم. ګڼې دا قسمه ليکنې ستا د شان مناسب نۀ دي. ستا ليکونه چې تا په کومه جذبه او مينه ليکلي دي په هغې لا کار نۀ دے شوے. دا مونږ چې څه ليکو دا ستا د خيالونو او پېغامونو حق نۀ ادا کوو. دا خو د دې دپاره کوو چې تا رانه څوک په وقتي چغو او نعرو کښې ورک نه کړي. دا اوس بل قِسم بازار او مېله ده. زمونږ د وطن او خاورې زمونږ د قام او اولسونو د ضرورتونو نه لرې. د يو بل قِسم نمائش زمانه ده. مونږ ته ستاسو د ليکونو د شمارې په ځائې ستاسو د مقاصدو راسپړلو زيات ضرورت دے. او دا زمونږ د ټولو شريک او اجتماعي کار او ضرورت دے.